هارون حکیمی/مختصات افغانستان/محقیقین و مؤلفین ۲۰۲۴/۰۳/۲۰

# د ښاغلي عبدالباري جهاني لنډ ژوندلیک



د افغانستان نوموياڵی شاعر، ليکوال، مورخ او ژورناليست، ښاغلی عبدالباري جهاني د اروابناد حاجي عبدالاحمد زوی په ۱۹۴۸مېلادي کال، د کندهار ښار د باميزو په کوڅه کې زېږېدلی دی، ميرويس نيکه لېسه يې ويلې، په ۱۹۷۲م، د ادبياتو د پوهنځي د تاريخ او جغرافيې څانګې څخه فارغ سوی، په پښتو ټولنه کې؛ د کابل مجلې د مديريت او بيا د پوهنې په وزارت کې د بهرنيو مرستو تر دوه کلن مديريت وروسته د لس مياشتنيو لوړو زده کړو په موخه لبنان ته تللی .

د بېروت څخه د راستنېدلو سره سم يې د افغانستان د علومو اکاډمۍ د غړي په توګه کار پيل کړی، په ۱۹۸۱م، کې پېښور ته کډه سوی، تر دوه کاله علمي او ژورناليستيک کار وروسته يې د امريکا ږغ راډيو سره د دندې پر اساس امريکا ته کډه کړې، د امريکا ږغ راډيو په مرکزي دفتر (واشنګټن ډي سي) کې يې اووه ويشت کاله د وياند، ايډيټر او پروډيوسر په توګه کار کړی دی .

تر دې مهاله يې څه باندې ۳۴ آثار ليکلي او پنځولي چي ۲۹ يې چاپ او ۴ چاپېدونکي دي .

چاپ آثار :

۱-ورکه مېنه، شعري مجموعه
۲-پايکوب، شعري مجموعه
۳-د سباوون په تمه، شعري مجموعه
۴-شپېلۍ، شعري مجموعه
۵-کوه طور، شعري مجموعه
۶-راز و نياز، شعري مجموعه
۷-کوثر، شعري مجموعه
۸-معراج، شعري مجموعه
۹-فردوس، شعري مجموعه
۱۰-ارغوان، شعري مجموعه
۱۱-محشر شعري مجموعه
۱۲-پند و عبرت، په بېلابېلو مجموعوکې د داستاني نظمونو مجموعه
۱۳-د جهاني مثنوي، د داستاني نظمونو مجموعه
۱۴-د مشکو کاروان، څېړنيز او کره کتنيز اثر
۱۵-د پښتو په سُر او تال کې د غربي سندرو شرنګ، د انګليسي سندريزو اشعارو منظومي ترجمې
۱۶-شرقي لمنې غربي ګلونه، د انګليسي اشعارو منظومې ترجمې
۱۷-بهګت کبير دپښتو په بڼ کې، د هندي متصوف شاعر بهګت کبير د اشعار منظومې ترجمې
۱۸-د خيام رباعيات، د عمر خيام د رباعياتو منظومې ترجمې
۱۰-قوماندان، ناول
۲۰-هرات، پښتانه او ستره لوبه، تاريخي اثر
۲۱-د پښتو د فوکلوري نقلونو لنډ تحليل، څېړنيز اثر
۲۲-ادبي پلټنې، لومړی ټوک، څېړنيز اثر
۲۳-ادبي پلټنې، دوهم ټوک، څېړنيز اثر

۲۴-تاريخي څېړني، لومړی ټوک، تاريخي څېړنيز اثر
۲۵-تاريخي څېړني، دوهم ټوک، تاريخي څېړنيز اثر
۲۶-د پښتو شعر هنداره، ادبي څېړنيز اثر
۲۷-زما ژوند، شاعري او ليکوالي، مفصل ژوندليک
۲۸-شاه شجاع، امير دوست محمد خان او بريتانوی استعمار، تاريخي څېړنيز اثر
۲۹-تصوف او اسلام، څېړنيز اثر
ناچاپ اثار :
۳۰-د پښتونخوا د شعر هاروبهار، له سره ليکل سوی انتقادي متن
۳۱-الوداع، دوولسمه شعري مجموعه
۳۲-کيش شخصيت درتاريخ نگاری و تحليل نگاری، دری، تاريخي څېړنيز اثر
۳۳-په علمي سيمينارونو کې د مقالو مجموعه ( ناچاپ )
ښاغلی جهاني د افغانستان په ډېرو ولايتونو او د نړۍ په ډېرو هيوادونو کې د خپلو ادبي خدمتونو له مخې ستايل سوی دی. په وياړ يې سلگونه مشاعرې جوړې سوي دي او پر کار يې لسگونه سيمينارونه او علمي غونډې دايري سويدي .
-د امريکا ږ غ راډيو سره د کار په موده کې ۲۵ ځله په ايوارډونو ستايل سوی دی .
-په ۲۰۱۲م، کې د روسيې د علومو اکاډمۍ له لوري د الکزاندر پوښکين په ستر ايوارډ وياړل سوی دی .
-په ۲۰۱۳م د افغانستان د اسلامي جمهوريت لخوا د مير مسجدي خان په ايوارډ ستايل سوی دی .
د هيواد د مطرح علمي او ادبي شخصيت په توگه؛ ښاغلی جهاني د ملي سرود د ليکلو افتخار لري. د پام وړ شمېر شعرونه او ليکني يې نړيوالو ژبو ته ژباړل سوي دي .
د ۲۰۱۸ کال د مارچ پر ۲۴مه، کليفورنيا مېشتو افغانانو د افغاني کلتوري ټولني په کوربه توب، د پښتو شعر د بابا لقب ورکړ او په دې مناسبت غونډه کې يې د وياړ بگړۍ وروتړله .
د۱۳۹۳ل، دسلواغي (دلوي ) پر ۲۱مه، د افغانستان د اسلامي جمهوريت د رئيس محمد اشرف غني لخوا؛ ښاغلی عبدالباري جهاني د اطلاعاتو او فرهنگ د نوماند وزير په توگه ونومول سو. د همدې مياشتي پر۲۹مه يې د اولسي جرگې څخه د باور رايه واخيسته او د کب (حوت) پر اوله يې د افغانستان د اسلامي جمهوريت د اطلاعاتو او فرهنگ د وزير په توگه لوړه وکړه او د ۱۳۹۵ کال د لړم (عقرب) پر ۱۷مه يې د وزارت څخه استعفا اعلان کړه .
دا مهال په امريکا کې په خپلو علمي، ادبي او تاريخي څېړنو بوخت او تر څنگ يې د امريکا ږغ له لاري يوه نيم ساعته ادبي او څېړنيزه خپرونه پر مخ وړي.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ